## مطبوعاتي اعلاميه

## انتقالي حکومت د الله سبحانه وتعالی د حکم خلاف، د غربي کفر په پیروۍ د ارتداد قانون لغوه کوي!

د سوډان د عدلیې وزیر نصرالدین عبدالباري د متفرقه تعدیلاتو قانون په اړه نوي جزیات ورکړل، چې د ۲۰۲۰م، د جولای په ۷مه په رسمي ورځپاڼه کې خپاره شول - چې د دغه بیان تر لیکول پورې نه وو خپاره شوي تر څو سمدلاسه اغیز پرې وکړي - **د ارتداد د مادې منسوخ کېدل یې تایید کړل**. منبع: (سوډان ټربیون، ۲۰۲۰م کال، د نومبر ۷مه) هغه د ۲۰۲۰م، د جولای په ۷مه له سوډان ټلویزیون سره په یوه مرکه کې وویل: «که څوک غواړي خپل دین بدل کړي، تاسو یې د وژلو حق نه لرئ، دا په نني عصر کې د منلو وړ نه دي»!! لومړي وزیر عبدالله حمدوک ژمنه کړې چې په سوډان کې به په ټولو قانوني سیسټمونو کې د اختلالاتو د حل لپاره به قانوني بیاکتنې او تعدیلاتو ته دوام ورکوي!!

**موږ حزب التحریر- ولایه سوډان غواړو لاندې حقایق روښانه کړو:**

**۱-** پر شرعي حکم هېڅ شی لومړیتوب نه لري، د الله سبحانه وتعالی حکم چې کاینات، انسان او ژوند یې پیدا کړي دي فرمايي: هغه څوک چې بالغ او عاقل وي او مرتد شي نو هغه درې ځله اسلام ته راوبولئ، بیا یې جلا کړئ، چې یا اسلام ته بېرته راستون شي او یا دې هم ووژل شي، الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾**

[مائده: ۵۴]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! که ستاسو څخه څوک له خپل دین څخه واوړي (نو وادې وړي)، الله سبحانه و تعالی به نور ډېر داسې خلک پیدا کړي چې الله سبحانه و تعالی ته ګران وي او الله سبحانه وتعالی هغوی ته ګران وي، چې له مومنانو سره به نرمي کوي او پر کافرانو سختي، د الله سبحانه و تعالی په لاره کې به جد و جهد وکړي او د هېڅ ملامتوونکي له پېغور څخه ونه وېرېږي. دا د الله سبحانه و تعالی فضل دی، چا ته یې چې خوښه شي وریې برخه کوي یې. الله سبحانه و تعالی د پراخه وسایلو څښتن او پر هر څه پوهېږي.*

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ»**

***ژباړه:*** *چا چې دين بدل کړ، ويې وژنئ* (بخاري)

البيهقي او الدارقطني روايت کوي: «ابوبکر د ام کرفه په نوم يوې مېرمنې ته چې له ايمان وروسته يې ارتداد غوره کړی و، توبې ته راوبلله، چې بېرته اسلام ته راوګرځي، توبه يې ونه ايستله او هغه يې ووژله».

۲ـ هغه څوک چې حق ټاکي هغه د حق مالک دی، الله سبحانه و تعالی، نه اوسنی او پخوانی وخت، نه استعماري کافر او نه هم کوم بل دروغ او فرېب!

۴ـ په حقوقي سيستمونو کې د اختلالاتو په اړه د لومړي وزير خبرې؛ دا يوه رښتينې کلمه ده چې د شر په خدمت کې ترې ګټه اخيستل کېږي، په حقيقت کې، د شريعت حکم، لکه د ارتداد قانون، د اساسي سياست له جوړېدونکي سند سره سم نه دی، چې د امريکا د سياست معبود محمد الحسن لباد، د افريقا د اتحاديې (AU) په منځګړيتوب د کافر غرب د تمدن او مشروعيت پر اساس جوړ وي.

**اې مسلمانانو:** کله چې تاسو د بشر په لاسونو جعلي جوړښتونو پر بنسټ د خپل ژوند په اړه غلي پاتې کېږئ، نو په شا کې مو خامخا ګونځې پيدا کېږي او کله مو چې خپلې چارې د کافر غربي اجنټانو ته سپارئ، هغه مو ناوړه تمدن ته بيايي. د راشده خلافت تاسيس لوی وياړ دی، کوم مسلمانان چې د الله سبحانه و تعالی رضايت ته هيله مند وي او رښتينی بدلون رامنځته کوي، بايد شا پرېږيدي؛ ځکه چې يوازې د خلافت دولت ستاسو له ژوند څخه حقوقي تحريفات ليرې کوي. کله چې هغه قانون ته مراجعه وکړي، چې په عمل او تطبيق کې هغه د وحې پر اساس وي، ټول قوانين د همدې وحې پر اساس پلي کېږي؛ له دې وروسته ځمکه د خپل رب په رڼا سره روښانه کېږي.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾** [انفال: ۲۴]

***ژباړه:*** *اې ايمان راوړونکو! د الله سبحانه وتعالی او د هغه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم بلنې ته لبيک ووایاست چې کله پيغبر صلی الله عليه وسلم تاسې ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسې ته ژوند بښونکې دي او*

*وپوهېږئ چې الله سبحانه و تعالی د انسان او د هغه د زړه تر منځ حایل (پرده)  دی او د هماغه لوري ته به تاسو ورغونډ کړای شئ.*

**ابراهيم عثمان (ابو خليل)**

**د حزب التحرير- ولايه سوډان رسمي وياند**

**۱۴۴۱هـ.ق، د ذوالقعدې ۲۲مه**

**۲۰۲۰م، د جولای ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۵۸**